مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۴/۰۹/۰۱

# د یهودو عادلانه جګړې

(درې پنځوسمه برخه)



(په غزه کې د اسراییلو په وحشیانه بمباریو کې شاوخوا څلوېښت زره عام وګړي وژل شوي دي)

### د مړیو نړۍ، دوزخ، جنت او روح

### د مړیو نړۍ

یهودان خپل مړي د مسلمانانو او عیسویانو په څېر په خاورو کې ښخوي دا چې د دوی په ګروهو کې بله نړۍ شتون نه لري نو په ځمکه کې د خپلو مړیو د ښخولو ځای ته **(د مړیو نړۍ)** وايي. په یهودو کې د انسان ژوند ته ډېر اهمیت ورکول شوی دی ځکه چې د یهودو ډېری دلې ټپلې په راتلونکي ژوند باور نه لري نو له دې کبله وايي چې «هیله یوازې له ژوندیو کیږي، **له مړه زمري ژوندی سپی ډېر ښه دی** په دې چې ژوندي خو دومره پوهیږي چې یوه ورځ به ومري خو مړي په څه نه پوهیږي، د مړیو لپاره بدله نه شته، تر دې چې د دوی یاد هم له منځ ځي، د دوی ټول احساسات، مینه او کرکه له منځ درومي او هغوی تر ابده پورې د دغه آسمان لاندې کوم رول نه لري... کوم کار چې کوئ په ښه توګه یې وکړئ ځکه چې وروسته له مرګ څخه **د مړیو په نړۍ** کې نه کار شته، نه نقشه ایستل او نه پوهیدل شته.»[1]
په یهودیت کې د انسان او څاروي مرګ یو شان بلل شوی چې د انسان مرګ له یو څاروي سره څه توپیر نه لري، مرګ یو تلپاتې خوب یا ویده‌کیدل بلل شوي او هغه ځای چې مړي په کې ښخول کیږي ډېر تیاره ځای دی، د داؤد په مزامیرو

[1]: د تولنې پانې:۴/۹تر۱۰پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کې راغلي، هغوی چې ځمکې او کورونه د ځان په نوم نوموي، دوی فکر کوي چې کورونه یې تر ابده تلپاتې کېدونکي دي خو «په دی نه پوهېږي چې هېڅ انسان تر پایه په خپله لویی کې نه پاتې کېږي، **بلکې د څاروي په څېر مري...** خو په پای کې به د خپلو نېکونو ځای ته (چې پخوا تللي دي) ورشي **او په تلپاتې تیاره کې به پاتې شي، انسان به د خپل تول شان او شوکت سره، سره په پای کې د څاروي غوندې مري.»** (د مزامیرو کتاب:۴۹/۱۲-۱۹-۲۰)

د یهودو د (تولنې) کتابګوټی (چې احتمالاً لیکوال یې سلیمان ښودل شوی دی) د داؤد په شان وایي چې انسان له څاروي څخه کومه لوړتیا نه لري او په پای کې دواړه ساه ورکوي، وروسته له مرګ څخه د روحونو د استوګنځي او د انسان د بیا راژوندي کېدلو په هکله شک لري وایي:«یهوه خدای انسانان ازمایې ترڅو دوی ته ورښکاره کړي **چې له څاروي څخه ښه نه دي، له دې وروسته د انسان او څاروي پای یو ډول دی، دواړه ساه ورکوي او مړه کېږي نو انسان پر څاروي هېڅ لوړتیا نه لري**، هر څه خوشي او بېګټې دي، ټول یو ځای ته وردرومي، له خاورو جوړ شوي خاورو ته ستنیږي.

**څه ډول کولی شو پوه شو چې د انسان روح پورته [آسمان] ته الوځي او د حیوان روح د ځمکې لاندې ډوبیږي؟** نو دا مې وموندل چې د انسان لپاره تر دې بل څه ښه نه دي چې د خپلو لاس ته راوړنو خوند واخلي ځکه چې د هغه برخه په ژوند کې همدا ده **نو کله چې ومري څوک کولی شي هغه بیا راستانه کړي** او هغه څه چې وروسته پیښیږي ووینې.» (د تولنه پاټي:۳/۱۸تر۲۲پورې)

اسراییل د خپلو مړیو مړیستونه داسې تور او تیاره ځای بولي چې هلته رڼا هم تیاره ده، ایوب د مړیو د توري او تیارې نړۍ په هکله وایي چې «زه به ډېر ژر ولاړ شم او بیا نه راګرځم، **داسې ځای ته ځم چې سوړ او تیاره دی، د خواشینی او تورو تیارو ځای ته، داسې ځای ته دروممم چې هلته پهخپله رڼا هم تیاره ده.»** ( د ایوب کتابګوټی:۱۰/۲۱-۲۲)

د اسراییلو خدای یهوه له ایوب سره په سوال او ځواب کې د مړیو د نړۍ د تیارو دروازو یادونه کوي، زیاتوي چې ته زما په څېر خلکو ته سزاګاني ورکولی شې او د مړیو په نړۍ کې خلک بندیانولی شې:**«آیا تا د مړیو د نړۍ تیاره دروازې لیدلي دي؟»**[2] «په یو ځل کتو سره کبرجن ذلیل کړه او بدکاران په خپل ځای کې چې ولاړ دي، تربښنو لاندې کړه، هغوی په خاورو کې ښخ کړه **او هغوی د مړیو په نړۍ کې بندیان کړه.»** (ایوب:۴۰/۱۲-۱۳)

د ایوب په کتاب کې د مړیو نړۍ د آرام ځای هم بلل شوی دی چې ټول مړه کسان (هغه که پاچاهان دي یا بېوزلان) یو تر بل کوم امتیاز نه لري او ټول یو ځای ویده دي، هغه مهال چې ایوب له خپل ژونده موړ شوی ؤ او مرګ ته راضي ؤ، د خپل مرګ ارمان کوي چې د مړیو نړۍ د آرامی ځای دی، ایوب وایي «ولې د زیږون پر مهال مړ نه شوم... که د زیږون پر مهال مړ وای اوس به د پاچاهانو، رهبرانو او د نړۍ له مشرانو سره (چې لوړبېه ماڼۍ یې جوړې او قصرونه یې له سرو سپینو زرو ډک کړي دي) ویده وای. دریغه چې نړۍ ته مړ راغلی وای، هېڅکله مې سا نه وای اخیستې او رڼا مې نه وای لیدلې ځکه چې **د مړیو په نړۍ** کې اشرار څه مزاحمت نه شي کولی او ستړي کسان په آرام وي، تر دې چې په هغه ځای کې بندیان هم آرام دي، د زندان د ساتونکو ناړې سورې یې نه ځوروي، په هغه ځای کې بېوزله او شتمن یو شان دي، غلام د مالک له ځورولو آزاد دي.» (ایوب:۳/۱۱تر۱۹پورې)

## دوزخ او جنت

د یهودیت ډېرې لارویان په دې ګروه دي چې دوی ته د یهوه خدای لخوا مجازات او مکافات په دې نړۍ ورکول کېږي، د یهودو لپاره د ځمکې پر مخ ښه او سوکاله ژوند او اوږد عمر د دوی د ښو او غوره کړنو بدله ده. ناوړه، سخت ژوند او په پای کې وژل، د دوی لپاره مجازت دي، د یهودو د شریعت په کتابونو کې دوزخ، جهنم او د جنت یادونه نه ده شوې، یوازې د دوی د وروستیو انبیاوو په لیکنو کې د دوزخ یادونه یو ځل او د جهنم یادونه درې ځلې شوي ده، د دوزخ یادونه داسې شوي چې دوزخ د مجازاتو ځای نه دی، د اسراییلو د خدای یهوه له څرګندونو ښکاري چې دوزخ د مجرمانو پټنځای او لاندې په ځمکې کې یو ژوره کنده ده، د اسراییلو خدای یهوه وایي چې که هغوی دوزخ ته هم ولاړ شي له هغه ځایه به راوایستل شی، که آسمان ته پورته شي راکوز به یې کړي. د اسراییلو نبي عاموس د یهوه خدای له قوله وایي: یهوه خدای وویل:«د خدای کور د مټو (ستنو) سرونه دې مات شي چې متې راپرېوځي او د کور (معبد) چت دې پر خلکو راپرېوځي، څوک به روغ پاتې نه شي، تر دې چې هغه کسان چې په تېښته هم بریالي شي وبه وژل شي، **که دوزخ ته هم ولاړ شي، خپل لاس به اوږد کړم هغوی به له هغه ځایه راوباسم**، که آسماته پورته شي هغوی به لاندې راکوز کړم.»[3]

---

[2]: ایوب:۳۸/۱۷مخ.
[3]: د عاموس پاټي:۹/۱-۲.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دا شان جهنم د ایوب په کتاب او د سلیمان د متلونو په کتاب کې په لاندې ډول یاد شوی دی:«که زه د بل چا پر ښځه مینن او په کمین کې ورته ناست وای نو زما ښځه دې بل چا خپله کړې وای ځکه چې دا کار د مجازاتو وړ دی او د **جهنم** د اور په څېر کولی شي زما شتمني وسوځوي او له منځ یې یوسي.»[4]
«بد کاره ښځه تا د مرګ او **جهنم** پر لور بیایي.»[5]
«د پوهانو لار، د پورته ژوند پر لور درومي او هغوی په **جهنم** کې له ډوبیدلو څخه ژغوري.»[6]

## د مړیو روحونه[7]

د لرغونو آریایانو په دیني کتابونو: ویدي سرودونو او اوستا او د عیسویانو په دیني سرچینو انجیلونو او د اسلام په سپیڅلي کتاب قرآن کریم او نورو دیني منابعو کې د روح او روحونو په اړه په بېلابېلو بنو یادونې شوې دي، دا چې زموږ څېړنه د یهودو د ګروهو په تړاو ده، اړ یو چې د روح څېړنه د اسراییلو په دیني او تاریخي سرچنو کې وپلټو. د تورات په لومړي کتاب پیدایښت کې د روح یادونه شوې، «هغه مهال خدای آدم د ځمکې له خاورې جوړ کړ، **بیا یې د آدم په پوزه کې د ژوند روح پو کړ** او هغه ته یې ژوند ور وبانه او آدم په ژوندي موجود بدل شو.» (د پیدایښت کتاب:۲/۷)
په یهودیت کې څو ډوله، ښه او بد روحونه شتون لري او د روحونو د ځای‌ځایګي او څرنګوالي په هکله ضدي او نقیضي څرګندونې شوې دي، له انسانانو پرته حیوانات هم روحونه لري او د روح په واسطه ژوند کوي، کله چې انسانان او حیوانات مړه شي، د انسانانو روحونه آسمان ته پورته کېږي د حیواناتو روحونه لاندې ځمکې ته درومي خو د اسراییلو په ځینو سرچینو کې د انسانانو روحونه لاندې په ځمکه کې هم اوسیږي:
هغه مهال چې د اسراییلو لومړي پاچا شایول، د سموییل نبي له روح سره لیدنه کوله، د سموییل روح له ځمکې راپورته کیږي، وایي چې شایول پاچا غوښتل د خپلې پاچاهۍ په راتلونکو حالاتو پوه شي نو یوې جادوګرې ښځې ته په بدله جامه کې ورغی، له هغې یې غوښتنه وکړه چې د سموییل نبي روح ورته حاضر کړي، کله چې هغې ښځې پاچا وپېژاند نو وډاره شوه «شایول وویل: مه وېرېږه، وواېه څه وینې؟
ښځې وویل: **روح وینم چې له ځمکې راپورته کیږي.**
شایول وویل: څه ډول څېره لري؟
ښځې وویلیو سپینږیری سړی چې اوږده چپنه یې اغوستې ده.
شایول پوه شو چې سموییل دی، هغه سموییل ته درناوی وکړ، سموییل ورته وویل:**«ولې دې زه راوغوښتم او زما آرامتیا دې ګډه وډه کړه؟** شایول وویل: د دې لپاره چې په ډېره بد حالت کې یم.» (د سموییل لومړی کتاب:۲۸/۱۳-۱۴-۱۵)
اشعیا نبي د مړیو روحونه ځای د ځمکې لاندې بولي، هغه د اورشلیم ښار ته ګوتڅنډنه کوي وایي:«ته چې په قربان‌ځای مشهور یې، ته به د وینو په یوښل شوي قربان‌ځای بدل شې، هغوی به تا له هرې خوا کلابند کړي، پر تا به یرغل وکړي، ته به سقوط وکړې **او ستا نارې به لکه د مړیو د روحونو د غږ په شان، د خاورو له لاندې څخه په سختۍ سره اوریدل کیږي.»** (د اشعیا کتاب:۲۹/۲-۳-۴)

---

4: د ایوب کتاب‌ګوټی:۳۱/۹تر۱۲پورې.
5: د متلونه کتاب:۵/۵.
6: متلونه:۱۵/۲۴.
7: کیدی شي روح داسې یو څه وي چې کله د انسان یا حیوان په د ننه کې ځای‌پرځای وي، نو د روح په واسطه د انسان زړه او ماغزه اکسیجن (سا) اخیستی شي خو کله چې روح د یو چا له وجود څخه بهر شي نو سا اخیستل هم بندیږي چې طبعاً زړه او ماغزه کار پرېږدي او مرګ سبب ګرځي.
انسان او ټول ژوي له هر ډول خوراکي کمښت سره تر یوې مودې پورې مقاومت کولی شي خو د اکیسجن د نه شتون له امله په څو دقیقو کې ژوند له لاسه ورکوي.
دا هم امکان لري چې په خپله اکسیجن روح وي. د روح پېژندل یوه پیچلې معما ده چې یوازې پېژندل یې د لوی څښتن الله (ج) په پوهه پورې اړه لري:
﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ۖ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾
ژباړه:«له تا څخه د روح په اړه پوښتنه کوي، ووایه: روح زما د رب په حکم کې دی، تاسو ته د پوهې ډېره لږه برخه درکړ شوې ده.» (د اسراء سورت:۸۵ ایت)


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ایوب هم د انسانانو روحونه د مریو په نړۍ (چې د ځمکې لاندې ده) اشاره کوي وايي:**«د مریو روحونه د یهوه خدای پر وړاندې لړځیږي او د مریو په نړۍ کې له هغه څخه پټ نه دي.»** (ایوب:۲۶/۵-۶)

سربېره پر دې د یهودو په نور سرچینو کې راغلي چې د انسان روح د یهوه خدای پر لور آسمان ته الوځي او تن یې (چې له خاورو پنځول شوی دی) ځمکې ته درومي: وړاندې له هغې چې د انسان «تن چې له خاورو پنځول شوی دی، خاورو ته ستون شي **او روح چې د یهوه خدای لخوا ورکړای شوی دی، د هغه پر لور والوځي.»** (تولنه:۱۲/۷)

د سلیمان د متلونو په کتاب کې د پوهانو او متقي کسانو روح ته په ضمني توګه نغوته شوي چې د آسمان پر لور به درومي:**«د پوهانو د ژوند لار پورته درومي** او هغوی په جهنم کې له ډوبیدلو څخه ژغوري.»[8]

«کله چې خدایپېژندونکي مړه شي **پناهځای لري** خو ګناهکوونکي د خپلو ګناهونو په وسیله تباه کیږي.»[9]

په یهودیت کې روح څو بنې یا ډولونه لري چې ټول یې د یهوه خدای په واک کې دي، هغه روح چې آدم ته یو کړای شو لومړنی روح دی چې د خدای لخوا انسان ته ورکړای شو او دا د خدای نفس بلل شوی چې انسان ته حکمت وربښي، د ایوب په کتاب کې راغلي چې پوهه او حکمت د انسان په لړ یا ډېر عمر پورې اړه نه لري، بلکې په هغه روح پورې تړاؤ لري چې ورکړای شوی دی:«ویلي یې دي چې سپینږیري تر نورو پوه دي خو حکمت او پوهه په عمر او کلونو پورې اړه نه لري، **بلکې هغه روح چې په انسان کې ځایپرځای دی (او د غوڅ ځواکمن خدای یهوه نفس دی) انسان ته حکمت وربښي.»**[10]

د پوهې او حکمت، سلا، ځواکمنۍ او له خدای څخه د وېرې د روح په اړه وايي چې «د داؤد د کورنۍ ونه غوڅه شوې ده خو یوه ورځ به د هغې سته زرغونه شي، هو، د هغې له ریښې به نوې ښاخکه وټوکیږي، **د یهوه خدای روح به پر هغه ښاخکه کیني، د پوهې او حکمت روح، د سلا او ځواکمنې روح، د پېژندنې او له یهوه خدای څخه د وېرې روح.»** (د اشعیا کتاب:۱۱/۱-۲)

د حزقیال نبي په کتاب کې د نوي روح یادونه شوې ده چې اسراییلو ته به یهوه خدای نوی روح ورکړي، په دې مانا چې د اسراییلو زوړ روح نهمنونکي ؤ چې بدلون ته یې اړتیا وه:«تاسو ته به نوی زړه درکړم، **تازه روح به ستاسو په دننه کې ځایپرځای کړم،** له تاسو به د تیږې په څېر نهمنونکی زړه واخلم او نرم او منونکی زړه به درکړم، **خپل روح به په تاسو کې ځایپرځای کړم** چې زما حکمونه او قوانین ومنئ.»[11]

هغه مهال چې اسراییل بېځواکه او بېواکه، د پارسیانو تر واک لاندې اوسېدل، او دویم معبد د بیا رغوني کار، د زروبابل تر څارنې لاندې، له ډېرو مشکلاتو سره مخ ؤ نو د اسراییلو خدای یهوه زروبابل ته وویل چې ته به زما د روح په مرسته بریا ترلاسه کړې:«نه په واک، نه په ځواک، **بلکې زما په روح.** که [ته] هر څو بېوسه او بېځواکه وې **خو زما د روح په مرسته به بریالی شې،** ای زروبابله! دا د مشکلاتو غر به ستا پر وړاندې راپرېوځي، کله چې ته زما د کور د بنسټ وروستنی ډبره کېږدې، خلک به ناري پورته کړي: برکت دې وي پر دغه [کور].» (د زکریا پاڼې:۴/۶-۷)

داسې روح هم ؤ چې حزقیال نبي یې څو ځلې له یو ځای بل ځای ته وړی دی چې یوه بېلګه یې وړاندې کوو، حزقیال نبي وايي:**«زه روح پورته کړم او د خابور سیند پر غاړه یې په (تل ابیب) کې تبعید شوي یهودانو ته نږدې ورسولم.»** (حزقیال:۳/۱۴)

له بل پلوه د خبر ښېګنو د روح تر څنګ له یهوه خدای سره ناوړه روحونو هم موجود وو چې له هغو څخه یو هم هغه پلید روح ؤ چې د یهوه لخوا پر شایول پاچا باندې کېناست، هغه مهال چې شایول د اسراییلو د لومړي پاچا په توګه د یهوه خدای لخوا وټاکل شو نو لومړی د یهوه خدای روح پرې کېناست خو لړه موده وروسته چې شایول پاچا له فلسطینیانو سره په یوه جګړه کې د فلسطینیانو پر وړاندې له زړه سوي او رحم څخه کار واخیست، یهوه خدای ورته په قهر شو او **«له شایول پاچا څخه د یهوه خدای روح لرې شو او پر ځای یې د یهوه خدای لخوا ناپاک (پلید) روح پرې نازل شو چې له امله یې له سخت عذاب سره مخ شو.»**[12]

د یهودو د ناوړه روحونو په ډله کې یو روح د انسانانو د غولوني او تېرایستني روح هم ؤ، د اسراییلو د میکایا نبي له خولې یې اورو چې څرنګه یهوه خدای د یو انسان په څېر له پرښتو غواړي چې څوک کولی شي د اسراییلو شمالي پاچاهۍ پاچا اخاب بېلارې او وغولي چې ووژل شي:«میکایا نبي وویل: ... یهوه خدای مې ولید چې پر خپل تخت ناست

---

8: د متلونو کتا:۱۵/۲۴مخ.

9: د متلونو کتاب:۱۴/۳۱مخ.

10: ایوب:۳۲/۷تر۹پورې.

11: د حزقیال کتاب:۳۶/۲۶-۲۷.

12: د سموییل لومړی کتاب:۱۶/۱۴مخ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ۇ او پرښتي د هغه پر وړاندې ولاړې وې، يهوه خدای وويل: څوک کولی شي اخاب وغولوي چې پر راموت جلعاد باندې بريد وکړي او په هماغه ځای کې ووژل شي؟
هرې پرښتي خپل، خپل نظر څرګند کړ، **په پای کې يو روح راوړاندې شو، يهوه خدای ته يې وويل: زه دا کار کولی شم! يهوه خدای پوښتنه وکړه څه ډول؟ روح وويل: زه د انبياوو په خوله کې د دروغو خبرې اچوم او اخاب ګمراه کوم. يهوه خدای وويل: ته کولی شي دا کار وکړې، نو ولاړ شه همداسي وکړه.**
[ميکايا نبي اخاب پاچا ته وويل چې] يهوه خدای ګمراه کوونکی روح، د انبياوو په خوله کې اچولی دی چې تا ته دروغ ووايي، حقيقت دا دی چې يهوه خدای غواړي تا په مصيبت کې ورغوځوي.»[13]
يهوه خدای د خپل غوره کړي قوم د زناکارۍ د روح يادونه هم کوي، وايي چې «ستاسو کړني د دې مخه نيسي چې زما پر لوري راوګرځئ، **ځکه چې د زناکارۍ روح ستاسو د وجود په دننه کې ريښې ځغلولي دي** چې نه شئ کولئ ما وپيژنئ.» (هوشع:۴/۵)

نېټه:۱۴۰۳/۶/۱۱ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اخږ نوري ليکني په دی لينک کې ولولی.

---

[13]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۹/۲۲تر۲۳پورې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ